# د ولسي جرګې له وروستي نوملړ څخه د یودیرش تنو کاندیدانو نومونه حذف شول




د افغانستان د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون وایي چې د نوماندانو د قوماندانی او څیړنې کمیسیون له لورې،چې د ټاکنو د خپلواک کمیسیون پورې اړوند کمیسیون دی د ولسي جرګې ۳۱ تنه کاندیدان چې له ناقانونه وسلوالو ډلو سره داړیکو په تور، تورن پیژندل شوی نومونه یې د ولسي جرګې له ورستي نوملړ څخه حذف شوي دي .

د ټاکنیزو شکایتونودکمیسیون غړی او ویاند احمدضیا رفعت د سرطان د میاشتې په ۱۶ نیټه د یو مطبوعاتي کنفرانس په ترڅ کې ددې مطلب د څرګندولو تر څنګ وویل چې د نوماندانو د غړیتوب د څیړنې د کمیسیون د پریکړې پربنسټ چې د ټاکنو د خپلواک کمیسیون په چوکاټ کې کړنې کوي ولسي جرګې ته د یو دیرش تنو نوماندانو نومونه یې لرې کړي دي .

نوموړي زیاته کړه کوم کسان چې له وروستي نوملړ څخه لرې شوي د افغانستان په ۱۷ ولایتونو پورې اړوند کسان دي.

همدارنګه نوموړي زیاته کړه له وروستي نوملړ څخه ددې کسانو د نومونو د لرې کولو پریکړه وروستۍ شوې او ددې پریکړی په اړوند د تجدید نظرامکان شتون نه لري .

همدارنګه دا کمیسیون وایي د ټاکنیزو سیالیو د پیل راهیسې تراوسه شاوخوا ۵۰ شکایتونه د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون ته رسیدلي دي.

په شکایتونو کې په منع شویو ځایونوکې د نوماندانو لخوا د ټاکنیزوعکسونو لګول ، د نوماندانو ویرول ، تهدید او سپکاوی ښودل شوي دي .